سلام خان ۲۰۱۱/۰۸/۱۸

# د پارلمانی انتخاباتو د ستونزی د حل په باب
## دملګرو ملتونو د سازمان طرحه

په د مکلاچي انترنټ پاڼه کی چي د واشنګټن څخه خپریږي ویل شوی دي چي ملګرو ملتونو داسي طرحه برابره کړی ده چي د هغي په اساس به په افغانستان کي د پارلمانی انتخاباتو اوسنۍ کشاله د تل لپاره هواره شي، په دغه انټرنیټ پاڼه کی لیکل شوی دي چي د ملګرو ملتو دسازمان په دغه طرحه کی چي ځینی ګواښونه هم پکي دي، غواړي چي د افغانستان د جمهوررئیس او پارلمان ترمنځ تاوتریخوالی له منځه یوسي، نوموړی سازمان تمه لری چي ددوی دطرحی په اساس به داساسی قانون بحران منځ ته را نه شي، ملګري ملتونه په پام کي لري چي د انتخاباتو کمسیون سره کار وکړي **ترڅو دوی د ٦٢ ناراضو کاندیدانو له جملې نه ١٧ تنو ته دا زمینه برابره کړي چي ولسي جرګې ته لاره پیدا کړي**، مکلاچي د انتخاباتو اوسنۍ کشالي ته نظر اچوي او لیکي چي پروسږ کال دا وخت په افغانستان کي پارلماني انتخابات وشول او نتایج یې په تیر دسمبر کي په ډاګه شول خو په دې کې د کرزي پلویان پارلمان ته لاره پیدا نه کړه او دوی په انتخاباتو کي د درغلی ادعا وکړه. نو له همدې کبله کرزي د قضیې د څیړلو لپاره اختصاصی محکمه جوړه کړله.
محکمې په خپله وروستۍ پریکړه کي ٦٢ د پارلمان اوسني غړي نااهله اعلان کړل خو دغه پریکړه عملي نشوه کرزي په خپل وروستۍ پریکړه کي محکمه لغوه کړله او واک یې بیرته د انتخاباتو خپلواک کمسیون ته وسپاره د ملګرو ملتو د پلان په اساس به د انتخاباتو اوسنی کړکیچ پای ته ورسیږي او حکومت به دې ته وزګار شي چي د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې چي کله له ملک نه بهرني عسکر وځي، د مستقل امنیت نیولو لپاره ځان چمتو کړي.
وروسته له هغې، چې ولسمشر د ټاکنو خپلواک کمیسون ته واک ورکړ، چې دولسي جرګې دجنجالي ټاکنو موضوع نوره حل کړي. د ټاکنوکمیسون چارواکو پر هماغه ورځ وویل: چې داسې به لار راوباسو، چې ټولو ته دمنلووړ وي، په ټاکنو کمیسون کې یوه چارواکی ویلي دي، چې اوس د ټاکنو کمیسون غواړي، چې هغه اولس تنه ولسي جرګې ته لار ومومي، چې د شکایاتو کمیسون یې نومونه له لست غورځولي و، چې دهغو ١٧ تنو نومون په لاندی توګه دي.

نثاراحمد غوریاني له هراته
وحید طاهري له هرات نه دسپنتا ورور دی
معروف فضلي له هرات د اسمعیل خان په سپارښتنه له لیسته لیرې شوې و
فضل کریم ایماق له کندوز
عبدالشکور واقف حکیمي له بدخشانه
احمد خان سمنګاني
عبدالهادي واحدي له لغمانه
محمد یوسف غضنفر له بلخ
محمود خان سلیمان له پکتیکا
ګل محمد پهلوان له فاریاب
مسعود بختور له فراه
حاجی محمد پاینده له سرپل
رییس محمد عمر له بادغیس
حمیدالله توخی له زابل
وجیه الرحمن شینواری له ننګرهار
حشمت کرزی له کندهار
نیاز محمد امیري له غزني

یوه چارواکي ویلي دي کله چې د ملګرو ملتو تر پلان لاندې د انتخاباتو خپلواک کمسیون دا نوی بدلون اعلان کړي نو بین المللي ټولنه به یې تر شا ودریږي، پاڼه لیکي د امریکا چارواکو ویلي دي چې دغه هیواد که څه هم د ملګرو ملتو له طرحی نه به ملاتړ ونه کړي خو د کمسیون له پریکړې نه به حمایت وکړي.
د ټاکنو د خپلواك كميسيون مشر فضل احمد معنوي ویلي، چې د ولسي جرګې د تیرکال د ټاکنو په پایلو کې د بدلونونو امکان شته او په دې اړه به د روانۍ اوونۍ ترپایه خپله وروستۍ پربکړه اعلان کړي، فضل احمد معنوي وايي ډیر ژر به


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د انتخاباتي لانجې په اړه د ولسمشر پر فرمان غور وکړي او هڅه به وکړي چې یوه داسي د حل لار پیدا کړي چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي، ښاغلي معنوي دا څرګندونې په داسي حال کې کړې دی چې ځینې سرچینې وایي د حکومت او د انتخاباتو د خپلواک کمیسون ترمنځ معامله شوې چې له ۶۲ تنو څخه، چې اختصاصي محکمې په درغلۍ تورن کړي او د دې محکمې له پرېکړې سره سم باید له ولسي جرګې وایستل شي، ښایي نیمایي په خپل حال په ولسي جرګه کې پرېښوول شي او د نیمایي نورو پرځای نوې کسان جرګې ته ورمعرفي شي.

خو ولسي جرګه په خپل جوړښت کې د هر ډول بدلون په خلاف ټینګار کوي، دولسی جرګی غړی هم په خپلو منځو کی په دو برخو ویشل شوي دې، **د اصلاح غوښتونکو ایتلاف، چې ۱۰۶ غړي لري** او تېره ورځ يې د خپل شتون اعلان کړی، د ولسي جرګې د تېر کال ټاکنو د پایلو په اړه د ولسمشر له حکم څخه ملاتړ کوي، خو **له قانون څخه د ملاتړ ایتلاف، چې د چنګاښ په دویمه یې د خپل موجودیت اعلان کړی او۱۰٤ غړي لري**، د ولسمشر د یاد حکم مخالفت کوي، د ولسي جرګې د اصلاح غوښتونکو ایتلاف د دې جرګې له قانون څخه د ملاتړ له ایتلاف څخه وغوښتل، چې امنیتي ستونزو ته په پام سره د ملي شورا انګړ ته ځیرمه د تحصن غونډې دې نه جوړوي، خو له قانون څخه د ملاتړ کسان د تحصن غونډې خپل حق بولي او وایي، چې دا ډول غونډه په هر ځای کې جوړولی شي.

**راتلونکی اونۍ په افغانستان کې د قانونیت، ولسواکۍ، ملي واکمنۍ او د خلکو د ارادې لپاره برخلیک ټاکونکې ده، په دې اونۍ کې به ښکاره شي چې په افغانستان کې قانونیت، ولسواکي او ملي واکمني بریالي کیږي او که یو ځل بیا د اوږده مهال لپاره زندۍ کیږي او پرځای یې زورواکي، فساد او د سفارتونو اراده واکمني کوي.**

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ